سرلوڅ مرادزی ۱۸ / ۰۸ / ۲۰۱۸

د خپلواکۍ ورځ

نن ورځ د خپلواکۍ د لمر شغلو کې ښکاره شوه
د سترګې د سبا په ځلېدو کې ښکاره شوه
ورځ هغه، لمر هغه دی، مګر بل ډول تاثیر دی
راتګ سره خوښي یې، پرګنو کې ښکاره شوه
نه باد شته، نه توپان شته، په اسمان کې شینکی لمر دی
دا ورځ د طبیعت ښکلو شېبو ښکاره شوه
چمن یې نن په ویاړ وویشل عطر په ټول ملک کې
غوټې د پاڼو منځ کې خندېدو کې ښکاره شوه
چې زیری د دې ورځې پر سیندو د هېواد وشو
مستۍ یې په ځګونو او څپو کې ښکاره شوه
پامیر او سپینغردواړه یو تر بله نن جاریږي
امو او اباسین ترمنځ ورشو کې ښکاره شوه
ښارونه څراغان شول په اطراف کې شمعې بلې
د کلي په کوڅو د ښار واټو کې ښکاره شوه
تندي راته د ژړو، له خندا ښکاري نن ورین
سرخي د مستو نجونو اننګو کې ښکاره شوه
میلې هرخوا کې جوړې شوې، اختر او پنځلسی شو
ځلمي او پیغلې ګډ شول اتڼو کې ښکاره شوه
د شعر د کمال او د الفاظو له ښکلا نه
دا ورځ د « مرادزي» دغه بیتو کې ښکاره شوه
« شعر وزمه خیالونه»
د ۱۳۴۷ کال د وړې لومړۍ
کامه، فقیر صیب کلی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ